# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے



# داؤد بادشاه
# (دویمه حصه)

لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصۍ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.



داؤد د یهوده د جنوبی اسرائیل بادشاه وو. خو د باقی اسرائیل بادشاه یې د ساؤل زوئ اشبوست جوړ کړو. او دغه اووۀ کاله جنګ وو. خو داؤد به ورځ تر ورځې تکړه کېدو.



آخر دا چې اشبوست د خپلو دوو سپاهيانو د لاسه قتلېږی.



3

بيا د بنی اسرائيلو ټولې قبيلې داؤد له راغلې او هغه يې د ټولو بنی اسرائيلو بادشاه مقرر کړو. آخر دا چې داؤد د ټول قوم بادشاه وو.



4

داؤد د ټولو نه اول يروشلم قبضه کړو. او هغه د داؤد په ښار باندې مشهور شو. او هغهٔ دا د يوې مظبوطې کلا په طور باندې د دشمنانو په وړاندې بيا جوړ کړو. او د يروشلم نه د داؤد لښکر د فلستيانو او د بنی اسرائيلو داسې نورو دوشمنانو فتح کولو د پاره لاړل.



5

بياء، داؤد بادشاه د خدائ پاک د لوظ صندوق يروشلم ته راوړلو. د خدائ پاک د لوظ په صندوق کښې لس حکمونه او داسې نور حکمونه وو کوم چې خدائ پاک موسی له ورکړی وو. او د لوظ صندوق به د خدائ پاک د پاک والی او د فرمانبرداریٔ يادګېرنه کوله.



6

داؤد د خپلې بادشاهۍ په وړومبو کالونو کښې ډېر جنګونه کړی وو. هغه يو هوښيار سپاهی او عاجز انسان وو چې د خدائ پاک د لارښودنې د پاره يې دعا کوله.



7

نو په دې وجه باندې داؤد سوچ کولو چې هغه په يو ښکلی کور کښې اوسيږی او د خدائ پاک د لوظ صندوق په يوه خيمه کښې پروت دے. نو داؤد دا فېصله وکړه چې هغه به يو کور جوړ کړی. ناتن د خدائ پاک نبی ورته ووئيل چې ځهٔ دې په زړهٔ کښې دی نو هم هغه شان وکړه.



8



په هغه شپه خدائ پاک داؤد له پیغام راولیږلو. چې زما خدمت کوونکی داؤده مالک به ستا د پاره یو کور جوړ کړی. او چې کله ته مړ شې او د خپل پلار نیکهٔ په ادیره کښې ښخ شې. نو زهٔ به ستا یو زوئ بادشاه جوړ کړم او د هغهٔ بادشاهی به قائمه کړم. نو هغه به زما د نوم د پاره کور جوړ کړی او د هغهٔ بادشاهی به د همېشه د پاره قائمه کړم.

9



داؤد تپوس وکړو چې د ساؤل د خاندان څوک پاتې دی؟ کهٔ وی نو د یونتن د خاطره به زهٔ پرې مهربان شم. هغهٔ صرف د یونتن زوئ مفیبوست پېدا کړو چې په پښو باندې ګوډ وو. داؤد ووئیل چې هغه به زما په دسترخوان باندې د بادشاه د زامنو په شان خوراک کوی. داؤد په دې وجه باندې مفیبوست سره همدردی وکړه چې یونتن د هغهٔ ډېر ښهٔ ملګرے وو.

10



تر کومې چې داؤد په خدائ پاک باندې یقین ساتلو او د خدائ پاک اطاعت يې کولو، نو خدائ پاک به د هغهٔ مدد کولو چې هغه مخ په وړاندې ځی. خو یوه ورځ د داؤد په ژوند باندې یو خوفناک سورے پرېوتو. هغهٔ خپل لښکر د جنګ د پاره ولېږلو او په خپله په یروشلم کښې پاتې شو.

11



یوه شپه، هغهٔ له خوب نهٔ ورتلو نو هغه د محل چت وختو او په چت باندې ګرځېدو او ښار ته يې کتل.

12



نو داؤد یوه ډېره ښکلې ښځه په لمبلو باندې ولیده. د هغې نوم بت سبع وو. داؤد بت سره څملاستو تر دې چې د هغې خاوند اُوریاه حِتے د داؤد یو بهادر سپاهی وو. نو کله چې بت سبع ته پته ولګېده چې هغه اُمیدواره ده نو هغې داؤد له خبر ورولېږلو چې هغه امیدواره ده. نو هغهٔ ته پته وه چې د هغهٔ دا ګناه به اوس نورې مسئلې پېدا کوی.

13



نو خدائ پاک ته د اقرار کولو په ځائ باندې داؤد د خپلې ګناه پټولو کوشش وکړو. چې دا یوه ناکامه منصوبه وه. هغهٔ اوریا حتے د میدان جنګ نه کور ته راوغوښتلو، او هغه په دې وجه راوغوښتلو چې اوریا دا وګڼی چې دا راتلونکے ماشوم د هغهٔ خپل ماشوم دے. خو چې تر کومې پورې د هغهٔ ملګری سپاهیان په جنګ کښې وو نو اوریا حِتے کور ته نهٔ تلو. اوریا به د بادشاه د محل دروازې سره څملاستو.

14



بیا داؤد د هغې نه هم بد تر کار
وکړو. هغۀ اوریا د یو خط سره
واپس میدان جنګ ته ولیږلو .په
خط کښې د سپاهیانو مشر
د پاره دا پیغام وو چې
اوریا دې په جنګ کښې خامخا
ووژلے شي. نو چې کله اوریا
په جنګ کښې مړ شو نو داؤد
بت سبع سره واده وکړو او
هغه یې خپله ښځه جوړه کړه.

15



خدائ پاک خپل خدمت کوونکے ناتن راولیږلو چې هغه
داؤد ته د هغۀ د ګناه په باره کښې ووائی. نو ناتن داؤد ته د
یو مالداره او د یو غریب په باره
کښې قیصه کوی. مالداره سړی
سره ډېر څاروی وو، خو
غریب سړی سره صرف
یوه ګډورۍ وه.
ګډورۍ د هغۀ د
پاره د لور په
شان وه.

16

نو یو مسافر د هغه مالداره سړی کور ته راځی. نو هغه
مالداره سړی نۀ غوښتل چې د خپلو څاروو نه یو حلال
کړی. هغۀ د دې په ځائ باندې د هغه غریب سړی
ګډورۍ حلاله کړه.



17

داؤد هغه مالداره سړی ته سخت
غصه شو او ورته یې ووئیل،
چې کوم سړی چې دا کړی وی
نو هغه د مرګ لائق دے.



18

ناتن داؤد وفرمائیل چې تۀ هغه سړے یې. څۀ چې داؤد
کړی وو نو هغه د هغه مالدار سړی نه زیات بد تر وو د
کوم چې په دې قیصه
کښې ذکر وشو.



19

خدائ پاک داؤد ته دا ښکاره کړل چې تۀ څومره ګناه ګار
یې. داؤد په خپله ګناه باندې پښېمانه شو.
هغۀ خدائ پاک ته ووئیل، ما
ستا خلاف ګناه کړې ده او دا
بدی مې کړې ده. نو خدائ
پاک د داؤد ګناه معاف کړه.
خو د بت سبع ماشوم ډېر
ناجوړه او د پیدایښت
نه لږه موده
هغه مړ شو.



20

خدائ پاک داؤد معاف
کړلو. بیا د بت سبع یو بل
زوئ وشو، سلیمان، څوک
چې د داؤد نه پس یو عظیم
بادشاه جوړ شو. خو د داؤد
بادشاه نو هم ډېر بچی وو،
او په هغې کښې څۀ داسې
وو چې د هغۀ د پاره د
مصیبت سبب شول.



21

داؤد بادشاه (دوېمه حصه)

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

۲ سموئیل ۱ - ۲۱

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ."-
زبور 130:119

22

# ختم شو

21

60

23

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه گنا وايې. د گنا مزدوی مرگ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د گناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو گناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوگنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما گناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲

24